د جهاد هنداره

د تاسیس کال ۱۳۶۹

مؤسس الحاج مولانا جلال الدین حقانی

لومړی کال، لومړی گڼه، د ۱۳۶۹ هـ ش د سنبلی (۱۵)

PROPERTY OF ACKU

احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Vahdat Yar

د جمعیت العلماء اسلام عمومی منشی مولانا فضل الرحمن له الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره ملاقات وکړ (٤) مخ

د روسی الوتکی د تښتول کیدو ماجراء او معما (۳) مخ

اعلامیه تائیدی شورای نظار ج.ا.ا. از شورای سراسری قوماندانان جهادی افغانستان در پکتیا صفحه (٤)

نجیب که د روسانو له خبری خان وزغوری د مجاهدینو له گوزارونو نشی خلاصیدلی (۵) مخ

په روسیه کی د خپلواکی غوښتنی د بڼیر موړی شی (۳) مخ

صدام در نقش هتلر. صفحه (۵)

د صوبه سرحد گورنر له الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره د دوی په کور کی ملاقات وکړ (۵) مخ

الحاج مولانا جلال الدین حقانی د جهاد هنداره د لومړی گڼې د خپریدو په مناسبت په خپل پیغام کی:

«د جهاد هنداره» جریده د فرهنگی جهاد په ډگر کی یو بله اضافه ده، خدای (ج) دی وکړی چی د جهاد او په هغه پوری د مربوطو مسایلو په هکله د حقایقو او واقعیتونو څرگندویه او انعکاس کوونکی شی

هیله ده «دجهاد هنداره» د ټولو مجاهدینو او گرد ولس ترمنځ د وحدت د داعی په توگه د جهاد سنگرونو او صفونو ته د وحدت پیغامونه ورسوی

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

اما بعد:

خوشحاله یم چی «دجهاد هنداره» جریدی لومړی گڼه په داسی وخت کی خپریږی چی زمونږ اسلامی انقلاب او د کفر، الحاد او فساد پرضد جهاد د بری پولی ته بیخی نژدی شوی دی.

په دی حساسو شیبو کی چی مونږ د لوی خدای (ج) په مرسته او د وسله وال جهاد په برکت د زیاتو قربانیو په نتیجه کی د بری درشل ته رسیدلی یو او د روس غوندی یو ستر نړیوال استعماری او الحادی طاقت ته مو په نظامی ،سیاسی ،اقتصادی او ... ډگر شرمیدلی ماتی ورکړی او هغه مو له افغانستان څخه په تیښته مجبور کړی دی د روسانو د مزدورانو او غلامانو (خلقیانو او پرچمیانو) د الحادی سلطی تغرمو د خپل هیواد له زیاتی برخی څخه ټول او یواځی په څو لویو ښارونو او یوځی مرکزونو کی محصور اود خپل محتوم شکست دورستیو شیبو ته رارسیدو ته سترگی په لار او دخپل ژوند د بقا او د ځان د خلاصون د لاری په لټه کی دي سره له دی چی زمونږ

په (۵) مخ

کابل ته نجیب د رارسیدو پر وخت پر هوایی ډگر سخته حمله وشوه

نجیب له هر کلی کوونکو سره له روغبړ پرته په تیښته له هوایی ډگر څخه خپلی پښی سپکی کړی

(افغان اژانس) د کابل د مزدور رژیم مشر ډاکتر نجیب له مسکو څخه د خپل یو میاشتنی سفر څخه وروسته کله چی د کابل هوایی ډگر ته راورسید، نو د مجاهدینو د لری ویشتونکو توغندیو د ډزو له امله بیله دي چی له هر کلي کوونکو او کوندی غړو سره روغبړ وکړی له هوایی ډگر څخه وتښتید .

مجاهدینو هغه وخت په هوایی ډگر برید وکړ کله چی د نجیب د سپرلی الوتکه په هوایی ډگر کوزه شوه ـ دا حمله دومره سخته وه چی نجیب له الوتکی څخه ترمینل ته نه بلکی هینکر ته منتقل کړای شو او له هغی ځای ، څخه یی په تیښته پښی سپکی کړی.

د خوست په هوائی ډگر یوه الوتکه ویجاړه شوه

میرانشاه د سنبلی ۱۲ : له خوست، څخه په رارسیدلو خبرونوکی ویل شویدی چی د خوست په هوایی ډگر کی د رژیم ټوپار وړونکی ، الوتکه د کوزیدو په وخت کی د قهرمانو مجاهدینو د توپونو د ډزو له امله له منځه، ولاړه .په خبر کی ویل شویدی چی لدی وروسته د رژیم حیث الوتکو د مجاهدینو

په (٦) مخ

الحاج مولوی جلال الدین حقانی د پاکستان ته اسلامی تنظیمونو په تیره د جمعیت العلما د دوارو ډلو څخه غوښتنه وکړه چی په خپلو کی سره متحد شي

میرانشا : الحاج مولوی جلال الدین حقانی د پاکستان د ورور اسلامی هیواد له علماوو او دینی حلقو او تنظیمو څخه غوښتنه وکړه چی په خپلو کی سره متحد شی.

محترم حقانی صاحب څرگنده کړه چی په پاکستان کی د اسلامی نظام دنفاذ په

په (٦) مخ

په کندز کی، مجاهدینو دوه توپ لرونکی هلیکوپترونه ولجه کړي دی

زمونږ سیمه ییز مجاهدینو د کندز ولایت د امیبی په سیمه کی دوه روسی توپ ـ لرونکی هلیکوپتر الوتکی یې، ولجه نیولی او عملیاتی بندیان شویدی

د کندز ولایت دمجاهدینو، یو خبرځای ریپوټ ورکوی چې

په (٦) مخ

له کویت څخه ۱۳۳۷ تنه افغان مهاجرین پاکستان ته راورسیدل

د مهاجرینو مصارف د سعودی حکومت له خوا ورکړل شول

د دوی بیبی او سامان عراقی تیری کوونکو لوټلی و

۱۳۳۷ مهاجرین چی پر کویت له عراقی تیری وروسته سعودی عربستان ته تللی وو له هغه هیواد څخه پاکستان ته را رسیدلی دي. د دوی مصارف

په (٦) مخ

سرمقاله

د روس - امریکا د توطئو نوی پړاو

د نړی د ډله ایز ارتباط وسایلو پدی وروستیو وختونو کی یوځل بیا په ډیر آب او تاب اعلان کړه چی د امریکا او روسیی د بهرنیو چارو د وزارت مامورین دا پلان لري چی د افغانستان د ربړی په رابطه د خپلو اختلافاتو د راکښولو په هکله په راتلونکی اوونی کې غونډه وکړي.

د خبریالانو له خولی د روس - امریکا تر منځ د اختلاف موضوع داده چی ډاکتر نجیب ته د انتخاباتو پروخت څومره واك ورکړل شی ...

لدې مخکی په سایبریا کی د امریکا د بهرنیو چارو د وزیرانو جیمز بیکر او شوارد نادزی تر منځ غونډه کی د افغانستان د کشالی پر سر د دواړو استعماری قوتونو ترمنځ د توافق په اړه هم دا ډول تبصرو او څرگندونو ډیر زور نیولی ؤ، خو لدی مخکی د امریکا رسمی مقاماتو په ډاگه کړې وه چی امریکا د نجیب له سمبولیکی بقا سره موافق دی. نجیب هم اعلان کړه چی دی حاضر دي د انتخاباتو د انعقاد نه مخکی د خپل قدرت له یوی برخی لاس واخلی او هغه یوه داسی کمیسیون ته وسپاری چی په هغی کی د خلق گوند په گډون د ملت د ټولو طبقو نمایندگان شامل وی !!!

لدی معلومیږی چی په دی رابطه د روس - امریکا تر منځ څه داسی اختلافی ټکی ندی پاتی چی هغوی نور بحث او خبرو ته ورت وړینی.اصلی خبره داده چی د روس - امریکا دغه ډول ډیپلوماتیك فعالیتونه د دوی د قبلی موافقی او ناولي طرحی د تطبیق له پاره د زمینی برابرول دی چی څه وړ د افغانانو او د افغانانو د دوستانو او اسلامی امت په سترگو کې خاوری واچوی او خپله استعماری طرحه دا ډول پلی کړی چی د دوی استعماری او اسلام دښمنه څیره له خلکو پټه پاتې شی.

په (٦) مخ

وروڼو! اختلاف چې په هره ب...لحه وي له منځه یوسئ. یوبل ته د وروروڵی لاسونه ورکړی او د اتحاد، له لارې د شرق او غرب د توطیو او دسیسو مخه ونیسئ.

الحاج مولوی جلال الدین حقانی

نجیب که در وسانوله خیپری ځان وژغوری د مجاهدینوله گوزارونونښی خلاصیدلی

دحولای په ۲۹ نیټه

د کابل محکوسی راډیو په غیر مترقبه توګه مسکو ته د کابل د لاس کیولی رژیم، د مشر ډاکتر نجیب دسفر خبر خپور کړ.

ددغه خبر په خپریدو د کتونکو او سیاسی تحلیل ګرانو له خوا دا ډول اظهارات وشول چی په هغه کی د ببرك پرسرنوشت د ډاکتر نجیب د اخته کیدو څرګند وېره بېي کوله دا وړڅرګندونی هغه وخت لا تودې شوی چی د نجیب د، سفر په هکله د کابل راډیوء عبدالرحیم هاتف او مسکو په څرګندونو کی ښکارد تضادونه ولیدلی شول.

دغو متضادو څرګندونو، په دې رابطه د شکونو او پوښتنو د راولاړیدو په برخه کی د کتونکو او مبصرینو لپاره د زیات دقت او پدی اړه د تحقیق اوځیرنی یو نوی لوری په نخښه کړ.

د نجیب مرستیال او په کابل کی په اصطلاح سرپرست جمهور رئیس عبدالرحیم هاتف څرګنده کړه چی نجیب په اصطلاح د سولی د پلان تطبیق په خاطر، اوله مسکوسره د تفاهم او له دغه طرحی څخه د دفاع په خاطر سفر کړی خو

لدی سره جوخت مسکواعلان کړه چی نجیب له خپلی، ماندینی او دریو لونوسره د تفریح له پاره روسی ته راغلی او دخپلی رخصتی ورځی تیروی د کابل راډیوبیا د نجیب د سفر علت طبی معاینات وښودل د کابل د باندینو چارو وزیر عبدالوکیل هم پدی جریان کی دمسکو، له لاری ژینو ته رسیدلی دی د ده ویاند وویل چی د، عبدالوکیل د خبرو په اجندا کی د کرملین او نجیب تر منځ د خبرو او غونډی جوړیدل شامل نه وء.

ددی په څنګ کی سلطان علی کشتمند چی له یوی میاشتی راهیسی په مسکو، کی وء کابل ته راستون شوی خو له ٤٨ ساعتو نو وروسته بیرته مسکو ته روان شویدی چی دا خپله پدی رابطه د، پوښتنو او شکونو جهت نور هم تقویه کوی.

ددغو ناخاپی او غیر مرقبه پیښو جریان هغه وخت بنه نیولی چی د روسی په (ایزوکوفسك) کی د روس امریکا د بهرنیو چارو د وزیرانو د غونډی لپاره تیاری نیول کیده.

له بلی خوا د شوردناد تزی او جیمزبیکر د غونډی د پیلیدو په شپه کابل راډیو اعلان کړه چی دا غونډه به د افغانستان د کشالی په خاطر قاطع او آخری لارد پیدا کړی خو لدی سره سم عبدالرحیم هاتف څرګنده کړه چی: حکومت لا تر اوسه د (ایزکوفسك) د غونډی د پریکړو او تصامیمو په اړوند تفصیلی، معلومات نلری ...

په همدی جریان کی د روسی یو بل هیئت چی مشری یی د روسیی د پارلمان د غړی ایواندرونوف په غاړه لری پاکستان ته راغلی ددغه هیئت د سفر مقصد د، مجاهدینو له خواد روګی نیول شو یو پوځیانو خلاصون وُ یوکال د مخه هم داسی یو بل هیئت چی دری ښځی هم پکی شاملی وی دا ډول، یوه ماموریت له پاره پاکستان ته راغلی وء - هغه وخت ویل کیدل چی په هیئت کی د، شاملو دریو ښځو زامن هم د بندیانو په ډله کی دی.

وړمبنی هیئت هم د مجاهدینو له مشرانو سره لیدنه کتنه کړی وه او د ا دی دغه هیئت هم دمجاهدینو له مشرانو سره خبری کړی

په خبر کی ویل شویدی چی د هیئت له خوا انجینر حکمتیار ته هغه لیك ورکړ شو چی دده په نامه لیکل شوی وءکه څه هم دلیك محتوی نه دده افشاشوی خودځینو حلقو له خوا پدی رابطه ویل شویدی چی له دوی څخه روس ته د سفر بلنه شوی تر څو په ربړ و له نږ دی، خبری وکړی شی.

په هر صورت له اصلی موضوع نه لیری نه ځو، موږ مخکی وویل چی مسکو ته د نجیب ناخاپي او غیر منتر قبه سفر د تحلیل ګرانو، کتونکو او مصرینو په وړاندی کومی پوښتنی او، شکونه را ولاړ کړیدی دا، د نجیب د اسلافو د انجام له مخی هغسی واقعیتونه دی چی نن سبا د ببرك سره د نجیب د سر نوشت د یوځای

کیدو پیشګوی وړاندی کوی. حقیقت دادی چی استعمار هیڅکله او په هیڅوخت کی هم له خپلو نوکرانو سره وفاندی کړی - استعمار تر هغه وخته د خپلو مزدورانو ترشا دریږی کله چی د دوی د، ګټو حفاظت په ښه توګه کولی شی خوکله هم چی دا ضرورت رفع شی استعمار نور حتی د دوی د ژوندي پاتی کیدو حوصله هم نلری چی

داوءد خان ترهکی، امین او ببرك یی ژوندی مثالونه دی او نن سبا چی د نجیب مزدوری هغوی ته دومره واره دارد نه ښکاری او دده په غلامی کی د ګټی په ځای له تاوان سره مخامخ دی

نو د دا ډول شکونو او پوښتنو راولاړیدل حتمی خبره دد. اوهغه داسی هم کیدی شی لکه داؤدخان، چی له کورنی او اولادونو سره یی له منځه یوسی داسی هم کیدای شی لکه تره کی چی د بالښت په، واسطه یی د ژوند له صحنی څخه وشړی داسی هم کیدي شی لکه امین چی د شپی په تیاره کی یې کمپله ور پوله کړی اوداسی هم لکه ببرك چی د ژوند مرګ درك یی هم چاته نشی لګیدلی.

کیدی شی داخل بیاهم نجیب د روسانو له خیپرې ځ وژغورلی شی او د څه فرصت او وخت په لاس ته راوړلو وتوانیږی، خوداواقعیت دی چی د مسکو په وړاندی، د ده ارځښت دومره نه دی چی هغه دي پر خپل مات ګوډ اقتصاد دده د دوامدار ه حمایې اضافی او ملاماتوونکی بارنورهم وزغملی شی.

اوس چی نجیب له کرملین نه له ډیر خواریو او زاریو وروسته د څه مهلت په تر لاسه کولو ځان کابل ته ژوندی را رسولی دی نو د خپل انجام ویری داسی وارخطا کړی چی لا په کابل کی یی د چا خبرد دمه نه وه جوړه چی دهندوستان په لور یی مخه کړه او د وي،پی،سنګ لمنی، ته یی ځان ورغورځاوه خو

په (۵) مخ

صدام در نقش هتلر

انکشافات اخیر اوضاع در خلیج وجنون کشورکشائی صدام یکبار دیګرخاطرات زهراګین هتلری رادراذهان آنانیکه هنوز حوادث وحشت بار جنګ دوم جهانی را، در حافظه دارند، بشکل برجسته تری ترسیم نمود تاخت وتاز غیر مسئولانه صدام از بسا جهات باهتلر بازی مشابهت داشت وحتی عده از تحلیل ګران بدین نظر اند که صدام، در صدد تطبیق همه ابعاد نقشی هتلر است.

هر چند بعد از جنګ دوم جهانی کشور های دیګر نیز بجنګ و کشورګیری مبادرت ورزیده اند ولی هر کدام این کشور ها بعد از اشغال سر زمین مورد نظر شان رژیم های دست نشانده شان را بکرسی نشاندهو خود ظاهرا" از صحنه عقب رفته اند تا با انتقادات شدیدجهانی مواجه نګردند.

تجاوز امریکا به پانامه و ګرینادا و تجاوز روسها بر افغانستان امثال بر جسته این قضیه اند ولی صدام درست پا بر نقش قدم هتلر نهاد و ازینکه حتی قادر به دریافت حتی چندکوبنی، مزدور نیز نګردید عجولانه تصمیم ګرفت تا سر زمین مستقل کویت را که ۲۵۰ سال موجودیت آزادانه داشت ضم خاك خود سازد.

دلیل دیګری که هتلریزم صدام مبرهن می سازد اینست که هر ګاه وی اندیشه خام کشور کشائی در خیال نمی داشت باید از پیامدهای سیاسی اوضاع اګاه می بود و از محکومیت بین المللی شوروی حین تعرض انکشور بر افغانستان انتباه می ګرفت - هویدااست که عطش صدام بادر نظرداشت همه این عواقب خطرناك فرونه نشست و عجولانه بر کشور ازاد و مستقل کویت حمله برد واکنون که همه جهان اعم از ملل اسلامی و غیر اسلامی در برابر صدام کمزور ولی پر قهر جبهه ګرفت وامپراطور جنون زده خود را دراستانه نابودی می بیند دست بجنایت دیګری زده اطفال و زنانی را که خود به انها امن دیپلوماتیك داده بود به صحنه جنګ کشانده و خود در عقب ایشان پنهان میشود.

در حالیکه اسلام حتی در مواقع جهاد باکفار مسلمانان، را از تعرض به اطفال، زنان و پیرمردان منع مینماید. ولی رژیم عاقبت نااندیش عراق از یکسو بخارجیان امن میدهد و مصوونیت دیپلوماتیك شان را تضمین مینمایدولی ازجانب دیګر از انها سلاح جنګی ساخته و خود بزدلانه در عقب آنها پنهان میشود.

المانی ها در جریان دومین جنګ جهانی عین کارراکردند آنهاافراد کلیساهارا در میدان های هوائی کشاندندتا از، حملات بر میدان های خویش جلوګیری نماید.

در نهایت آمر باتحلیل دقیق و همه جانبه اوضاع

در صفحه (۵)

په روسیه کی
د خپلواکی غوښتنی د بهیر نوی څپی

په روسیه کی یو جمهوریت، استقلال اعلان کړ .له بلـه پلوه په روسـیه کی دضروری ـ شیانو د کمبود لـه امله هـره ورځ مشکلات زیاتیږی . ریپوټونـه وائـي چـی د جمهوریتونو د، خپلواکی داعلانیدو له کبله د، روسیی اقتصادی مشکلات زیات ، شوی او دی کار گرېچوف ډیر۔ وارخطاء کړیدی واشنگتن پوست په دی باب یو مضمون چاپکړی چی دلته ئي ترجمه وړاندی کیـږی .

په روسیه کی د یولږجمهور۔ یتو لخوا د استقلال د اعلانیدو په لړ کی ددغه ملك دسپینـی روسی جمهوریت پرون په داسی وخت کی خپلواکی اعلان کړه ، چی په روسیه کی زیات اقتصادی او قومی مشکلات پیښ شویدی ، اوس به معلومیږی چی دروسیـی جمهور رئیس گرباچوف دغهمشکلات څنگه حـل کوی .

برسیره پردی د سپینیروسی قوانینو ته د روسیی د قوانینو، له نظره څو قیت ورکـړ شوی د سپینی روسی پارلمان اعلانکړی دغه جمهوریت چه دلس عشاریه دوه ملیونونه زیات نفوس لـری د اتومی وسلی نه د پاکه علا۔ قه شـی .او ځانته دی وسلهـ والـی قواوی ولـری .

د سپینی روسی گاوندی جمهور۔ یت اوکراین چی د (۵۷/۷) ملیونه نفوس لری د روانـــی میاشتی په سر کـی دی ته ورته اعلامیه خپره کړی وه تر اوسـه پوری د روسیی د پنځلـــس جمهوریتونو دجملی نه (۱۲)ئی استقلال اعلان کړیدی ددغـو اعلامیو پـه لهجو کـی فـرق دی.مثلا " لیتوانیی ډیره شدیده اعلامیه خپره کړی او ددغـــه جمهوریت د حق په غوښتنه کـی ئیخپلو خبرو کی احتیاط هـم کـړیـدی.

احتمال لری چی د مرکـزی اسیا ټول پاتی جُمهوریتونه هـم په څوراتلونکومیاشتوکی دنـــوی اتحاد د ترون د خپرواتروپـه ترځ کی خپلواکی وغواړي.

سپینی روسی او اوکراینکـی د واړو محلی کمونستو گوند ونـو داستقلال د اعلا میىملاتړکړیدي دا خبره ددی څرگندویه ده چی په مسکوکی د روس مشران اوس، دیته اماده دی چي جمهوریتونو ته د قدرت انتقالولوته غـاړه کیږدی . دجمهوریتونو د فشار

په وجه گرباچوف دیته غاړهایښی چی په تجارت کی دواحدمارکیټ او په اقتصادیاداره‌بانک‌ی‌مرکـــزی کنترول د ساتلو په خاطر د ، روسیی په فدرالی نظام کـــی اساسی بدلون راولی .

جمهور رئیس گورباچوف د، جمهوریتونو دخپلواکی غوښتنـــی غورځنك ډیر وارخطا کړیدی.

هغه رسمی ارقام چی پرون خپاره شوی ښیي چی دروسیی ، معتبر و اسعارو دتادیاتو تبادلـه کسر په تیر کال دوه برابره شوی ارقام وائی چي دغه کسردروان کال تر نیمایی پوری (۱۱)ملیارده ډالرو ته ختلی دی، پـــد ی هفته کی په روسیه کی د سگرتو، کمبود د دوامداره ستونځو سبـب شو او خلك د سگرتو غرفو او ـ دوکانونو ته په کتار ولاړ دی اوپه غتو صناعتی ښارونو کی ئـــي مظاهری جوړی کړیدی دغسییوه

گروډی د یورال د ښار پـــه (فرم) کی هم جوړه شوهچرچنو خلکو په سړکونو د ترافیکو تـلك، راتك بند کړ او داعتصابونـــو کمیتی ئی جوړی کړی څو ساعته وروسته مظاهره چیانو خپلی غو۔ ښتنی زیاتی کړی .

بل پسی مصرفی شیان کم شـــی په خلکو کی هم وسوسهزیاته شي احتمال لری چی د غټواقتصادی اصلاحاتو د راوستلو په وخت کی د مصرفی شیانو د کمبـو د له امله پر حکومت فشار زیاتشی سره له دیچی کیدای شیپدی،

د خپل حکومت د پراخولو پـــه غرض یو فرمان خپور کړ او ـ ناسیو نالیستی ډلو ته ئی دوی هفتی وخت ورکړ چی خپلیوسلی تسلیم کړی مگر په هغو راپورونو کی چی د ارمنستان نه خپارد شویدی ویل شویدی چی دمهرو وینو د توئیدو نه وروسته. به ددغه فرمان عملی کیدل یو مشکل کار وی، ویل کیږی چې په ارمنستان کی خلك وسلی لری . د ارمنیانو د آزادی د اردو۔ مشر رویټر خبری اژانس ته ویلی دی چی دده ډ له چی شلزره وسله وال غړی لری د وسلو ـ تسلیمی ته غاړه نه ږدي. ده ، وویل چی د خلکو له غولولونـه مرك بهـتر دی .

د کورنیو چارو وزیر (بدین۔ بکاتـین) په یوه مطبوعاتـــی

تر اوسه د روسیی د پنځلس جمهوریتونو له جملی نه دوولسو یی د استقلال اعلان کړی دی. او احتمال لری چی د مرکزی آسیا ټول پاتی جمهوریتو نه په څو راتلونکو میاشتو کی د نوی اتحاد د تړون د خبرو اترو په ترځ کی د خپلواکی اعلان وکړی.

د تمباکو د پرېمانی او پـــد صناعتی فابریکو کی دکمونستانـو د ځالو د ړنگیدو غـږیی وکـړ. روسی خبریالانو په خپلو ریپوټونو کی ویلی دی چی مظاهره چیان ایله هغه وخت قانع شول چی، د اردو د تحویلخانوند دسگرټو د دونیم لکه قطیو د ورېرلـــو وعده ورکړه شوه کله چی یوپـــد

رابطه نوری مظاهری هم وشـی.

د کمونست گوند ورځپانـــی پراودا پرون ریوټ ورکړیچــی د اشتراکی کروندو کارگران د ، ملك په اکثرو علاقـو کی دمظا۔ هروکمیتی تشکیلوی چی دسونلك په موادو او نورو مسایلو کـــی د اصلاحاتو د راتلك غوښتنوکړی گورباچوف په روانه هفته کی

کنفرانس کی وویل چی‌له‌ملکـــی خلکو سره (۴/۷) ملیونه وسلی شته دی چی اکثره ئی ښکار ی ټوپکونه دی مگر په دی کـــی بوولس زره داسی وسلی دیچی خلکو په څو تیرو هفتو کــی د یو لیسو به ماموریتونو باندی ـ حملو کی ترلاسه کړیدی .پدی، توگه گورباچوف ته له خارجــی ستونزو سربیره په داخلی سطحه داسی مشکلات او سرخـــوږ ي رامنځ ته شوی چی د هغه منشأ د افغانستان له ربړی سره یی، رابطی نـشی گنېل کیدی.

د روسی الوتکی د تښتول کیدو ماجرا او معما

په تیرو دریو میاشتو کی (۷) روسی الوتکی تښتول شویدی

یواځی د جون په میاشت کی د پنځو الوتکو د تښتول کیدو خبرونه

د اگست پـه ۱۹ نیټـه د سهار پـه ۷ بجـو د روســی د ترینگـاد پـه هـوائی ډگــر کی ټی یو ۱۵۴ الوتـکه دسلـو تنـو سـپرلیـو سره د الوتنـی لپاره چمـتو ولاړه وه د سپرلیو پـه ډله کـی پنځـه لـس تنه هغه زندانیان هـم شامل وه چی د روسـی د ننه لـه یو زندان څخـه بـل تـه وړل کیـدل د دوی د حفاظت لد پاره دری، تنـه عسکـر چـی کلاشنکوف او تمانچـی ورسـره وی موظـــف شـــوی و ه.

له الو تنـی څخـه ۸ ـ دقیقی وروسته پـه الوتکـه کی

خپاره شویدی

د بندیانو د چـټك حـرکـــت لد مخـی لد هغـوی څخـد یو تن چـی تومانچـد یی په لاس کـی وه د الوتکی میلمه پالـی تد یو لئك ورکـړاو پـه لوړاواز، یی ورتـه وویـل دالیك پیلـوټ تـه ورسـوه او ورتـه وواپـــد چـی دی زموږ پـد خوښـــد حـرکت وکـړی گـنی نو انجام، بد یی ډیر خـطرناك وی... پـد کاغذ کی یی لیکل شوی و چـی: (زموږ لومړی غوښتنـــه داده چـی الوتکـه بیرتـه د، ترینگا پـه هوائی ډگـر کـــوزه کـړی شـــی .)

همغه وه چـیالوتـکه د ترینگـا پـه هوایی ډگـرکـی کوزه کړی شوه ـ پـر هـوایی ډگــر تښتوونکـو خـپلـی مطالــبی حـکامـوتـه وړانـدی کـړی ـ دوی غوښتنـه کـړی وه چــی، لومـړی خـو بایـد د دوی دوه زندانی ملگـری لد جیل څخـد آزاد او دوی تـد وسپارل شـي او دوهمد داچـی دوی تد باید وسلـد هـم پـه اختیار کـــی ورکـړل شـی د ۸ ساعتو نوپد اوږدوکـی روسـی حکامو ددوی، دواړه شـرطونـد ومنـل خــو ددی پـه مقابل کـی یـــی غوښـتند وکـړه چـی پدالوتکـد،

سپاره ماشـومان او ښـځـــی پریښودل شـی .

تښتوونکو داغوښتنه ومنله ـدوي، تـه خپل دوه تنـه زندانـــی ملگـری وسپارل‌شول‌او۶ کلاشنکوف ۶ تومانچـی او (۶۰)مردکـــی ورکـــړل شول .

تښتوونکـو هم پخپله وعـــدد وفـا وکـړه او پـد الوتکـد کی سپارد ماشومان او ښځـی یـی، پریښودل . دلته د الوتکــی تښتوونکوتر منځ سلا مشورو ډیر وخت ونیوه پـه نتیجـه کـــی یی شپږ تنـد له الوتکی څخد کوز شول او ځانوند یی پولیسـو تـد وسپارل او نورو یی د ـ الوتکی د تښتولو بـد پـروگرام عمل شـروع کـړ. دښتوونکـو

اعلامیه تائیدی شورای نظار ج.ا.ا. از شورای سراسری قوماندانان جهادی افغانستان درپکتیا

شوری

ارگان نشراتی شورای نظار

اعلامیه مشترک شورای سرتاسری قوماندانان جهادی افغانستان را تائید و پشتیبانی میکنیم

قوماندانان بزرگ جهادی افغانستان بتاریخ ۱۷ ثور ۱۳۶۹ درولسوالی خوست پکتیا تشکیل جلسهٔ داده و عملاً روی ضرورت تشکیل شورای سرتاسری قوماندانان صحه گذاشتند.

اینک بتاریخ اول سرطان شورای سرتاسری قوماندانان جهادی افغانستان که عده کثیری از قوماندانان ولایات کشور مربوط تنظیم های مختلفه اسلامی در آن گرد آمده بودند در ولسوالی خوست ولایت پکتیا تشکیل شد و روی مسایل آتی اتخاذ تصمیم نمودند:

- کمیسیون توظیف گردید تا در ۳ روز عملی نمودن تصامیم اتخاذ شده ذیل زمینه را برای اشتراک همهٔ قوماندانان جهادی دریک شورای وسیع سرتاسری مساعد سازد.

الف - انسجام و هماهنگی فعالیت های گستردهٔ نظامی جهت انهدام و سقوط رژیم ملحد روس در افغانستان.

ب - اتخاذ تدابیر مشترک بمنظور بهبود شرایط امنیتی در مناطق تحت کنترول مجاهدین.

ج - اتخاذ تدابیر مؤثر عملی برای حفظ روحیهٔ جهادی ملت مسلمان و مجاهد افغانستان.

د - بوجود آوردن تشکیل اصلاحی مشترک برای بررسی شرعی قضایای ذات البینی مجاهدین داخل کشور.

هر طرح و پلان بدون تفاهم رهبری جهادی و ارادهٔ مستقیم ملت مسلمان ما در مورد حل قضیهٔ افغانستان که جانب گیری بیجا بی و جنبهٔ تحمیلی داشته باشد نزد قوماندانان جهادی سلب حق تعیین سرنوشت ملت مسلمان و مجاهد ما تلقی شده و مداخلهٔ مستقیم در امور داخلی کشور عزیز ما شمرده میشود.

شورای قوماندانان بصراحت اعلان میدارد که هدف از تشکیل شوری انسجام فعالیت های نظامی و تشریک مساعی مجاهدین بوده نه ایجاد فاصله بین کدر های رهبری جهاد و قوماندانان جهادی. زیرا هر دو نمایندگان واقعی و جزء لاینفک همدیگر میباشند.

(ومن الله التوفیق)

شورای نظار ج.ا.ا

تمامی موادمندرجهٔ فیصله نامهٔ شورای سرتاسری قوماندانان جهادی را در ولسوالی خوست جدیانه تائید و از آن پشتیبانی مینماید.

****

دجمعیت العلماء اسلام عمومی منشی مولانا فضل الرحمن له الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره ملاقات وکړ

ده د جمعیت العلماء د دواړو ډلو د اتحاد په لار کی د حقانی دهلو خلوستاینه او قدردانی وکړه.

د جمعیت العلمای اسلام عمومی منشی مولانافضل الرحمن په میرانشاد کی د الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره ملاقات وکړ. نوموړی د حقانی صاحب د ورور شهید قومندان محمد اسمعیل د فاتحی له پارد میرانشاد ته ورغلی و.

په دغه ملاقات کی د افغانستان د مقاومت د مسایلو سربیره د پاکستان دجمعیت العلما د دواړو ډلو د اتحاد، په هکلد هم ګڼوری خبری وشوي مولانا فضل الرحمن پدی، لار کی د مولانا جلال الدین حقانی د هلو ځلو ستاینه او قدردانی وکړه.

باید ووایو چی لدی مخکی مولوی جلال الدین حقانی پدي رابطه د پاکستان له جیدو علماوو څخه پخپلولنکونوکی پدی لار کی د همکاريواو جدی اقداماتو غوښتنه کړی وه.

عربستان سعودی درصدد بنیان گذاری تحقیقات اسلامی درکشورهای جهان شده است

مکه معظمه - ۲ سنبله: عربستان سعودی تصمیم دارد تا اندر سراسر جهان مراکز ... را ایجاد و مراکز مالی کمک کند تا بدینصورت تحقیقات اسلامی را در تمام کشور های جهان سرمایه گذاری کند. بنا به اساس این مطلب ملک فهد بن عبدالعزیز پادشاه عربستان سعودی در مکه معظمه اطمینان داده است ملک فهد همچنین ... که وی طرح همکاری مشترک را با حکومت اسلام آباد بغرض اعمار " ... مسجد در ... ملک سال در پاکستان ریخته است.

د ختیځ او لویدیځ المان دیو ځای کیدو تړون په ختیځ برلین کي لاسلیك شو

د دواړو المانونو د یو ځای کیدو وروستی تړون په ختیځ برلین کي لاسلیك شو او د هغه په اساس به دواړه المانونه د اکتوبر د میاشتي په دریمه نیټه سره یو ځای کیږي د ختیځ جرمني صدر اعظم لاوسر میزیر ویلي دي نوي دواړو جرمنو د یو ځای کیدو په خاطر ډیر سنه او ممکنه اساسات برابر کړیدي. تیره ورځ د لویدیځ المان مشر تباعلي «کول» دا تړون د جرمني په تاریخ کي یوه ډیره مهمه لحظه بیان کړه، ددي تړون د لاسلیك په غرض زیاتی مې ځلي وشوي ځکه د نوي تر منځ د ... یعني د اولاد له منځ وړلو په موضوع ... زیات اختلاف موجود وو. دا نوي تړون به د دواړو جرمنو د پارلمان له لوري په تصویب باندي ورسیږي.

په قاهره کي د عرب لیك د دیارلسو هیوادو نوغونډه

په قاهره کي د عرب لیك د یو پشتو هیوادو نو له جملي نه د دیارلسو هیوادونو د باندنیو چارو وزیرانو او ماهرینو د سنبلي د میاشتي په ۷ مه نیټه غونډه وکړه. د ورکړي شوو رپوټونو له مخي ویل کږي توګی یو ځل بیا تیاري نیسي چي د کویټ نه د عراقي قواوو د وتلو او د شیخ الصباح د کورنۍ دوباره قدرت ته د رسیدو غوښتنه وکړي.

د روسی الوتکې د تښتول کیدو...

مشر د الوتکې پیلوټ ته د د تاشکند په هوایی ډګر د کوزیدو امر وکړ خو د سون، موادو له اخیستو وروسته الوتکه، د پاکستان په لور والوتله.

د الوتکې پیلوټ پاکستانی حکام، لدی جریان څخه خبرکړل او د کوزیدو اجازه یی وغوښته خو پاکستان د نه ځواب ورکړ د پاکستان له ممانعت وروسته د الوتکې د ډیلی په لور حرکت وکړ خو د هندوستان واکمنو هم اجازه ورنکړه لدی وروسته، الوتکې بیر ته د پاکستان خوا ونیوله او په ۱۰ بجو او ۱۱ - دقیقو د پاکستان د الوتکې پیلوټ یوځل بیا د کوزیدو اجازه وغوښته خو داځل بیاهم هغه ته د کوزیدو اجازه ورنکړه شوه خو کله چې د پیلوټ له خوا د تیلو د خلاصیدو او د الوتکې د تباهی دخطراعلان وشو او پاکستانی واکمنو ته وویل شول چې په الوتکه کې ایله دومره د سون مواد، شته چې یواځې نیم ساعت پر ی وچلیدلی شي پاکستان ورته د کوزیدو اجازه ورکړه.

پدی جریان کی دروسی د صدراعظم له خوا د پاکستان واکمنو ته دا پیغام هم ورسید چې الوتکې ته د کوزید و اجازه ورکړل شي او پدی رابطه د دوی مرسته وکړ ی شي. هماغه وو چې په ۱۲ بجو او ۲۰ دقیقو الوتکه د کراچۍ پر هوایی ډګر کوزه شوه.

له کوزیدو سره سم تښتوونکو واکمنو ته ځانونه وسپارل او د سیاسی پنا غوښتنه یی وکړه.

د خبرونو له مخې دښتوونکو عمرونه د ۱۸ - او ۳۰ کلو تر منځ وه دوی ډیر زاړه او خیرن جمپرونه او جامې اغوستې وی. د دوی له جامو او څیرو معلومیده چې، دوی په ډیر کړاوجن او درد ناك حالت کې ژوند تیر کړی

د تښتوونکو زیات شمیر عیسویان او د بالتیك سیمې اوسیدونکي وه د واس آف امریکا د خبر له مخې تښتوونکو له وسلې ایښودلو وروسته په یود ترلي حونه کې په د کراچۍ کې له روسی قونسل سره، خبری کړی چې تر دووساعتونو پوری یی جریان درلود. په وروستیو وختونو د روسي الوتکو د تښتولو پیښې ډیری زیاتی شوې یې په روان میلادی کال کې یواځې د جون په میاشت کې پنځه الوتکې تښتول شوی.

لومړنی الوتکه د جون په ۹ نیټه دوهمه په ۱٦ دریمه او — څلورمه په ۱۹ او پنځمه د جون په ۲٤ نیټه تښتول شویدی.

دجولای په لومړی او پنځمه نیټه هم دوی نوری روسی الوتکې تښتول شویدی په خبرونو کې ویل شویدی چې تښتوونکو پدي شرط وسله ایښی او پاکستانی واکمنو ته تسلیم، شویدی چې دوی ته به سیاسی پناورکول کیږی او روسی حکومت ته به نه سپارل کیږی.

مبصرین وایی: د روسی په تاریخ کې دا ډول پیښی سابقه نلري بلکه دا دغه ډول پیښو، ... جا نشوای کولی څرګنده چې د روس د وحشت او زور ظلم په افغانستان کی دړی وړی شو، نه یواځی داچی په ختیځه اروپا او نوره نړۍ کی د کمونیزم، د استبداد ځنځیرونه توتی - شول بلکې د روسیی دننه یی هم د آزادی غوښتنی غورځنګونه وزیږول او د هغه هیواد د وحشت او استبداد اداره یی - داسی ګډوډه کړه چې اوس هلته د داډول پیښو دجریان مخه نیول ناممکن ښکاری.

له بلی خوا د مبصرینو په عقیده د الوتکې د تښتول کیدو تر شا چې کوم حقایق موجود دی هغه پټ ساتل شوی. تر دی چې د الوتکې تښتول کیدل دیوی معما بڼه غوره کړی.

د تښتول کیدو جریان او د روسی مقاماتو برخورد هم د دغه معما حل لاپیچلی، کړیدی.

د صوبه سرحد گورنر له الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره د دوی په کور کی ملاقات وکړ

دوی د الحاج حقانی د والدی او شهید وروور فاتحه وکړه

د صوبه سرحدگورنر، امیر گلستان‌جنجوعه د، الحاج مولوی جلال‌الدین‌حقانی سره په میرانشاه کی د دوی په کور کی ملاقات وکړ.

په دغه ملاقات کی د صوبه سرحد هوم سکرتر رستم‌شاه مهمند او د شمالی وزیرستان پولیټکل عبدالکریم قصور او نور لوړ رتبه مامورین هم شامل وو.

د صوبه سرحدگورنر او، د ده ملگرو دالحاج حقانی، د والدی او وروور شهیدتوماندان محمد اسمعیل فاتحه وکړه‌او، مرحومینو ته یی دمغفرت او کورنی ته یی د صبرجمیل او اجر جزیل غوښتنه وکړه.

په را رسیدلو خبرونو کی ویل شوی چی د صوبه سرحد گورنر تر نود ساعته دافغانستان په وروستیو حالاتو له الحاج حقانی سره خبری وکړی او دوی ته یی د پاکستان د، حکومت او• ولس له خوا د افغانستان د جهادد ملاتړ داډ ینه ورکړه.

د کشمیر د حزب المجاهدین مشر له الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره ملاقات وکړ

د نیول شوی کشمیر دحزب المجاهدین مشر غلام صفی د افغانستان د مجاهدینو له، نوماندقوماندان الحاج مولوی جلال‌الدین حقانی سره ملاقات کړی او د کشمیر او افغانستان د جهاد په رابطه بی‌خبری، کړی.

په خبرونو کی ویل‌شوی دی، چی کشمیری لیډر دافغانستان د دوری په اوږدوکی له، مولوی جلال‌الدین حقانی سره بی د پکتیا په محاذ کی، لیدنه کتنه کړیده مولوی جلال‌الدین حقانی کشمیری مشر ته داډ ورکړ چی افغان، مجاهدین د خپلو کشمیری مسلمانو وروڼو سره په جهاد او قربانی ځانونه شریک گڼی او پدی لارکی د هر ډول مرستی او سر ښندنی ته تیاردي.

صدام درنقش....

به این نتیجه میرسیم که تنها طرف که ازین انشباری کور کورانه صد درصدمتضرر می گرددمردم مسلمان خلیج است وبس. زیرا طوریکه هر دو طرف اعلام می دارد احتمالات زیادی وجود دارد که جانبین این جنگ، قریب الوقوع بسلاح های شیمیاوی، متوسل گردندکه درصورت وقوع این فاجعه عساکر امریکایی و انگلیسی‌تاحدی خواهندتوانست بااستفاده از ماسک ووسایل کمیاوی از شر این سلاح ها نجات یابندو عراقی ها نیز درین سلسله خواهدتوانست تا برخی از افراد ارتش خودرا نجات دهندپس مسلم است که تنهاجانب که در اتش این فتنه زمان خواهندسوخت مسلمانان برخی از افراد و منابع اقتصادی شان خواهدبود در صورت وقوع جنگ صدام خوانخواهی نابود میشود ولی جراحت ها التیام ناپذیری را بمنطقه‌اسلامی خلیج بطور خاص و دنیای‌اسلام بطور عموم وارد خواهد ساخت تبدیلی زادگاه مقدس پیامبر اسلام و حرمین شرفین به تخته جنگ کفار و اختلافات ناشی از این قضیه که از همین اکنون میان توده ملیونی مسلمانان آغازیده است همه و همه جنایات نابخشودنی‌است که صدام یا هتلر بغدادی قرن بیستم مرتکب آن شده است

وضع کنونی خلیج مسلمانان را در موقف دشوار ي قرار داده است چه ازیکطرف دخول قوت های کفری غربی در مقدس ترین سر زمین مسلمانان عملیست ناشایسته و قابل تقبیح و از طرف دیگر نیرومندی و کشور کشائی‌بعثی ها در واقع تولد و رشد نطفه کمونستی فاشیستی دیگری است که در قلب جهان اسلام جوانه می زند. پس به ناچار به محکومیت انانی حق اولیت دارد که ایجاد این فاجعه المناک را موجب گردیده است.

دالحاج مولانا جلال الدین حقانی د پیغام پاتی

«د جهاد هنداره» ...

وحشی او ملحد مکار دښمن په دومره حقیر او ذلیل موقف کی واقع دی خو بیا هم په کرارنه دی ناست اود ډول ډول توطئیو او دسیسو په رامخی ته کولوسره غواړی د خپل شرمیدلی او ذلیل ژوند څو شپی او ورځی زیاتی کړی، کله د مجاهدینو سره د روغی جوړی پندوره غږوی او کله هم د جرگو مرکو او په اصطلاح گډ پراخ بنسټ حکومت د جوړولو او قدرت شریکولو خبری کوی. او کله د شرق او غرب د سازشونو له مخی د صدر الدین آغاخان په وسیله د جنگ په حالت کی د مهاجرینو د بیرته ستنیدلو خبری رامخی ته کوی، حقیقت دادی چی د دښمن ددغو توطئیو او دسیسو او دغه د مکارانه څیری د رسوا کولو او د ناوړو تبلیغاتو د خنثی کولو او بی اغیزی کولو لپاره پراخه تبلیغاتو ته ډیر ضرورت دی او د دی کار لپاره ډیره مؤثره او اغیزمنه وسیله نشرات دی تر څو زمونږ د مؤمن ملت د وگړو ذهنونه روښانه اود دښمن د توطئیو اودسیسو په اصلی هدف او ددغو توطئیو اود سیسو په عواقبو وپوهوي او د استعمار د توطئیو اصلی ماهیت بربنډ او له مخ څخه یې غولوونکی پردي لیری کړی. مؤمنو افغانانو لکه څنگه چی یی تراوسه پوری د وسله وال جهاد سنگر تود او پیاوړي ساتلی او له دغه سنگر څخه یی پردښمن باندی مرگونی گوزارونه کړی او کوی یې همدغسی یی د فرهنگی جهاد سنگر هم د وسله وال جهاد له سنگر څخه ډیر وروسته نه دی پاتی شوی ،خو داهم بنایی ووایو چی زمونږ زیاتره مطبوعاتی او نشراتی فعالیتونه تردیره د گوندي او تنظیمي روحیې له مخی بڼه نیولی او تنظیمی او سلیقي ملاحظاتو او گټوته د اولیت حق ورکړل شویدی.

موتږ په همدی منظور د تنظیم له سطحی لوړ د ملت په سویه او د ټول ولس په سطحه ددغه ډول نشراتو د ضرورت د احساس له مخی د خپلو محدودو امکاناتوپه چوکاټ کی د (منبع الجهاد) د مباشتنی مجلی خپریدل پیل کړل چی د مجاهدینو او ولس له خوا یی په زړه پوری استقبال وشو.لکه مخکی مو چی وویل دښمن له پخوا زیات زمونږ د اسلامی انقلاب پرضد توطئی، مانوری اودسیسی په لار اچولی ، شرق او غرب لاسونه سره ورکړي اود جهاد پرضد یی مشترکه او دښمنانه موضعگیری نیولی ده او غواړی چی زمونږ د انقلاب د بري او اسلامی حکومت د قیام په لار کی خنډونه رامنځ ته کړی طبعی ده چی د انقلاب د وروستی بری په دغه حساسه مرحله کی ددښمنانو توطئیی او دسیسی له پخوا څخه زیاتی توندی شویدی او ددی ضرورت لیدل کیږی چه په مقابل کی یی د مقاومت له خوا هر اړخیزو فعالیتونو ته هم چټکتیا ورکړل شی.دښمن د جهاد پرضد تر هر څه د مخه تبلیغاتی زهرجنو فعالیتونو او په نړیواله سویه دافواهاتو او پروپاگندونو د خپرولو له لاری غواړی چی د جهاد د بری په مسیر کی خنډونه رامنځ ته کړی له همدی ځایه ده چې ددی په مقابل کی د مقاومت له خوا د فرهنگی او مطبوعاتی سنگرونو لاپیاوړتیا او پراختیا ته ډیر زیات ضرورت لیدل کیږی څکه خود استعمار د مذبوحانه هلو ځلو په مقابل کی په خپلو ټولو امکاناتو د مقابلی داسخت ضرورت په گوتو کوی چی ددښمن د مانورو او زهرجنو تبلیغاتو په وړاندی د مقاومت او مقابلی پاخه سنگرونه رامنځ ته کړی شی او له پخوا زیات دا ډول چاروته اهتمام او توجه وشي. له همدی ځایه ده چی د (جهاد هنداره) جریده د فرهنگی جهاد په ډگر کی یو بل سنگر او یوه بله اضافه گڼو او لکه چی له نامه څخه یی څرگندیږی خدای (ج) دی وکړی چی همداسی د جهاد او په هغه پوری مربوطو مسایلو په هکله د حقایقو او واقعیتونو څرگندویه او انعکاس کوونکی شی او لکه څنگه چی هنداره هر څه لیدونکی ته پخپله بڼه ورښیی دغسی دا جریده هم د خپل اسلامی او تاریخی رسالت په درک سره په خپلو پاڼو کی د سنگر د مجاهدینو وياړلی کارنامی،او د فتحو او بریو خبرونه ثبت اومجاهدینو او مهاجرینو ته د دښمن د مکارانه څیری په ورپیژندلو اود هغو د توطئیو او دسیسو په اړه د مؤمنو افغانانو اذهان روښانه او زخمی زړونو ته د ملهم پټی وگرځی.

خدای دی وکړی چی د (جهاد هنداره) جریده د ټولو مجاهدینو او مهاجرینو تر مینځ د وحدت دداعی په توگه د جهاد سنگرونو او صفونو ته د وحدت پیغامونه ورسوی . په پای کی په داسی حال کی چی ددی جریدی د خپریدو له امله خپل مؤمن ملت مجاهدینو او او مهاجرینو ته مبارکی وایم د لوی خدای(ج) په دربار کی د جریدی کار کوونکو ته د بریالیتوب او توفیق دعا کوم.

والسلام

الحاج مولانا جلال الدین حقانی.

نجیب که د روسانو له څیری...

بنکاری داسی چی د وي،پی، سنگ لمن هم دومره نده چی نجیب تری لاندی‌پټ شی.

دی که هر څووغواړي‌چی د خپلو هندوستانی انډیوالانو زړه سوی او ترهم راجلب کړی او د خپلی غلامی په بدل کی دمسکوپر جفا، ورته لکه د کنگا دسیندهومره اوښکی وبهوی خوفکرنه کیږی چی د مسکو د وروستی پاداش څخه ځان خلاص کړی شي.

او گومان نه کیږی چی کرملین ته د وي،پي،سنگ واسطه کول او سفارش ددد د غلامی او خدمت د مودی په اوږدولو کی دومره اغیزمن رول ولوبولی‌شی.

وروستی پیښی او جریانونه که هر څنگه وی خو دی نجیب د مزدوری د پای ته رسیدو د نښو نښانوڅرگند وی کوی. او کیدی شی یو ه داسی بله سیاسی لوبه رامنځ ته شی چی د نجیب دژوند، او مزدوری تغر پکی تول شی .او د نورو تازه کارو غلامانو له پاره زمینه مساعده کړی شی .خوزمونږ باور دی چی که نجیب د روسانو له، څیړی خلاص هم شی د مجاهدینو له مرگونوگوزارونو نشي خلاصیدلی.

په پېښور کې د کويټ د هلال احمر روغتون د افغان مجاهدينو د زخميانو او رنځورانو د علاج له پاره فعال دی

په پيښور کې د کويټ دهلال احمر روغتون د افغان مجاهدينو او مهاجرينو درخميانو او، رنځورانـو په خدمت کی دي. فعلا "ددغه روغتون دتړون څـد انديښنه نشته . دغـه ټکـی د کويټ دهلال احمر دروغتـــون رئيس ډاکتر عبدالحی ،سليمـان څرګند کـړی دی .

نوموړي وائی :چی پهکويت، دعراق يرغل زموږ په شفاخانـه کوم تاثيـرندي کړي. موږدشفاخانی دټولونيت نظروزموږشفاخانـه تـــراوسه فعالـــد ده اودجګړی په زخميانو او ناروغـانو علاج کوي تر اوسه پوري موږ تـه د جګـړی د سنګرونو ده زخميان راځی ترڅو پوري چی اخري افغـــان مهاجر دپاکستان نه افغانستان ته نه وي تللی موږ به دخپـل، فعاليت نه لاس وانخلو.

دغه راز دکويټ دهلال ـ احمر دشفاخانی سوپر وايـــزر تصل سبحان ددي شفاخانی د روانو فعاليتونو په باب داسـی وويل :موږ ته دافغانستان دټولو ولايتونو نه ټپيان راځیاوددی وجه داده چی شفاخانه ډيـره غټـه شفاخانه ده.داشفاخانـه يوغيري حکومتی کويتی شفاخانه ده ددي شفاخانی دفتراوديوان اګـرچـی په کويټ کی دیخو دا مرستی نه يوازی له کويټ نه بلکی د نورو اسلامـــی هيوادونو له انفرادی مؤسســو څخـه هم رسيږی.

په همدی توګـه ددغـــی شفاخانی نوبل سوپروايزرنوربالـــی دخليج دحالاتـودخرابيـــدو، او دکومکـونو د نـه رسيدو پـه صورت ددغـی شفاخانـــی د راتلونکی فعاليت پـه بـــاب داسـی وويـل :

داکومکونـد موږ تـــه د کـويت د خلـکو لخـوا راتلل داد خلـکو د جيب پيسـیدي، نـه دحـکومت پيسـی او س هغه خلـک چـی زموږ سـرد کومـك کـوي هغـوي د کـويت نـه د بـانـدی دياو دکويـت نـه وتلی دي .او هغوي موږ تـه دا اطمينان راکـړيدی چی دا خپـل کومـك بـه جـار ي، ساتـی او هيڅ امکان نلری چـی دا شفاخـانـه وتړل شی.

د روس - امـــــريکا...

په همدی رابطه د خليج د کشالی بحرانی کول او د مجاهدينو دوستو هيوادونه د داخلي ربړو پيدا کول هغه هڅی دي چی د خپل استعماری سازش د تطبيق له پاره يی د يوه بل قدم په توګه رامنځ ته کړی دی.

- هندوستان - فرانسي او نورو هيوادونو ته د نجيب سفرونه د دغه طرحی او پروګرام لپاره د ملتونو د آرا او دلچسپی د جلبولو په رابطه د روس - امريکا له خوا د ښنو ځراغونو حيثيت لری.پدی ډول وروستی جريانات چې د خپل منزل وروستی مراحل شاه ته کوي، د جهاد پرخلاف هغه خطرناك سازشونه اوتباکوونکی ګواښونه دي چی په ډير مهارت سره د جهاد اهداف او آرمانونه سبوتاژ کوي. کوم چی له ډيری اوږدي مودي راهيسی قدم په قدم هغه د موفقيت لوري ته نژدي کوي.

موږ سره لدي چی د روس - امريکا سازشونه د جهاد پرضد خطرناك ګواښونه ګڼو خو لدي لاډير خطرناك جريان د جهاد اومقاومت په سطحه د متحد اوقوي دريځ نشتوالی دي چی يقيناً يی د روس-امريکا د سازشونو د موفقيت او د هغوی د جرئت له پاره لار اواره کړيده ...

موږ هميشه د دي ويره څرګنده کړي او د دغه ټکی يادونه مو کړی چی د اسلامی انقلاب پرضد ډير خطرناك ګواښ دا دی چی د يونيم مليون شهيدانو په وينو او قربانيو د ګټلي جنګ په وروستي مرحله کی زموږ سياسی ابتکار او نوښت خو په ځاي پريږده، بلکی سياسی حرکت هم ډيره بطی بڼه غوره کړيده، او همدا علت دی چی روس امريکا قدم پرقدم د خپلو سازشونو د تطبيق په لار کی يوګام مخ په وړاندي اخلی.

په افغانستان کی د مجاهدينو د حکومت د قيام د مخنيوی په رابطه د روس - امريکا ګټې شريکی دي او همدغو ګډوګټو دوي د جهاد، مجاهدينو او د اسلامي حکومت د قيام پرضد په يوه ناځوانمردانه او غلچکی بريد کی سره شريك کړيدي.

د روس - امريکا د دغه شر او توطيئو نه د نجات لار د مقاومت په سطحه د يوه قوی، فعال او متحد دريځ او موقف نيول دي اود يوه داسی ځواکمن او خوځنده ارګان رامنځته ته کول چی په داخلي او خارجی سطحه له يوی خوا د دغو توطيئو مقابله وکړي او له بلی خوا قضيه ژوندی وساتلی شی او سنګرونه ګرم،هم اهنګ او متحد.

له کويټ څخه:...

د سعودی حکومت پـه غـبـاړ اخيستی او پـه دوو خصوصـــی الو تنوکـی اسلام آبادتـه را، رسـول شـويـدي.

پـه خـبر کـی ويل شويدی چی تر اوسه ٦۰۰۰ افغـــان مهاجـرين له کويټ څخه سعو-دی عـربستان تـه رسيدلـی دی، او دالـړی روانـه ده ويل کيږی ٤۲۰ نور افغان مهاجرين هـــم د را رسيدلو په حال کی دی او د نورو لپاره لـــس خصوصي الوتنی پـه نظـر کی نيـول شويدی .

پـه خـبرو نـو کـی ويـل شـويـدی چـی په کويټ کـــی د افغانانو د خواری مزدوری، اجوره د عـراقی يرغلـګـــر و له خـوا لـوټ شـوی او پـه لاره د تـلو پـه وخت کـیچی ورسـرد څـه پيسـی او سامـان يـاتـه وء هغه هـم د تلاشـی په پلمـه عراقی تيری کوونکـو تـری غـلاکـړی دی.

دخوست پرهوايی ډګر...

پـر موږ چلونو سـختـــه، بمباری وکـړه چـی د مجاهدـ ينو د متقابلـه ډزوله املـــد، الوتکیپـه شـاتګ تـه اړکـړی شـــوي.

په کندز کی مجاهدينو...

زموږ اتلو مجاهدينو د سنبلی، پـه ۳۰مه د کابل د ملحدرژيم دوه هليکوپټر الوتکـی د هغوي، له پيلوټانـو او سپرليوسـرد نيـولـیدي.

پـه رپـوټ کـی ويـل شوی دي چـی دغـه الوتکـــی د مجـاهدينو د پخـوانـیبريالی پـلان پـه اساس د مجاهدينو، لاس تـه د غنيمت پـه توګـــد وړغلـی دی.

کابل ته نجيب د را رسيدو.....

پـه خبرونو کـی ويل شوی چـی پدغـه حملـه کـی د ـ هوايی ډګـر له مربوطينو او، پوځيانـو څـخـه (۹) تــنـــد وژل شوی او لـه (۲۰)تنو څخـد زيات ټـپيـان شويدی.

د غزنی په ولايت کی د ملحد رژيم ۳۷٥ تنه مليشه مجاهدينو ته تسليم شويده.

پـه را رسيدلـی رپوټ کی، ويل شـويـدي . چـی دغزنی پـه ولايت کـی د ملحـد رژيم ۳۷٥ تنـه مليشـه د افغانستان د ملی اسلامی محـاذ عمومی، قومانـدان سـيد سليمان ګيلانـی، تـه تسليم شويـدی .

رپوټ وايي چـی مجاهدينو د غزنی د ښـار نـه دررو ـ ۱۰۰۰ څـخـه تر دوهزرو۲۰۰۰ـ پوری کـورنی اسـتلی او پـه وردګـو او نورو سيمو کـیيـی ځـای پر ځـای کـړيدی .تـر څـو چـی پـه غـزنی باندی د عمليـاتـو پـه وخـت کـــی هغـوي تـه زيان ونـه رسيږي.

پـه نـو بل رپوټ کـی ويـل شـوي چـی مجـاهدينو پـــه بغلان کـی د سيدکيان پـه درد حمـلـه کـړی او دسيدکيان د ځـوی د مليشـه ونـــد ۳۰۰ تـنـه مجاهدينو تــــد تسليـم شـويـدی.

د الحاج مولوی جلال الدين حقانی والده په حق ورسيده

د روان کال د وږی مياشتی، د ۸ نيټی په سپد دالحـاج مولوی جلال الدين حقانی مـور بـی بـی پـه حـق ورسيـدد چـی پـه سبا يیدافغانستان يـولی تـه نژدی خاوروتـــــد وسپارل شـود .

پد جنازد کـی د زرګونو، مهاجر ينو ،مجاهدينو اوانصارو، پـه شـمــــول ـــ دافغانستـــان دمجاهديــــنو داسلامیعبوری حـکـومـت، د کورنيو چارو وزير او د حزب اسلامی مشر مولوی محمديونـس، خالص ـ دملی امنيت وزيـرـ حاجی دين محمد ـ مولـوی- نصرالله منصور ـ او ګڼ شمير، نورو علماوو قومندانانو او مخورو برخـد اخيستـی ود.

انا لله و انا اليه راجعون

الحاج مولوی جلال الدين حقانی د پاکستان له اسلامی ....

لارکـی دنظر او عمل يوالـــی دوخت ضرورت او دحالاتو جدی غـوښتنه دد ــ له همدی ځايه، دد چی ددغه اتحاد له لاری، له يوی خوا پاکستان له يـــو نړيوال اسـلامی قوت څخـــد برخـمن کيدایشـی او لهبلی خوا پـه موجوده کړکيچنوحالاتو، کی دپاکستان د سالميت او د ملحدينو او اسلام دښمنه عناصرو دمـذبوحانه هلو ځلو مخــد نيولی شـی .

له همدی ځايه زموږهيله ود چی کد دپاکستان علمایکرام د جمعيت العلماد دواړودلو او د نورو اسلامی تنظيمونو په يوځای کولو کی زموږ دهلو ځلو مـرستد وکـړی،نو انشاالله د دوی د، دغـه اقدام له امله به داتيت او پرك قوتونه يوځـل بيا سـرد متحد او دملحـدينو او اسلا م دښمنـه عناصرو د ځپلـــــواو ټکـولو لپاره به (بنيان مرصوص ثـابت شـی .

حقانی صاحب په هغو ليکو نوکـی چی د پاکستان دجيدو علماوو په نامه يی استولی دا، هـم زياتد کړی ده چی :زموږـ ورونـد بايد د ماضی له ترخـو تجربو څخـد د عبرت درس ـ واخلی او يواځی د الله تعالی د رضا پـد خاطر خپل ټــول اختلافات او مشاجـری هيریاو له پاسه وعـورځـویاو پــــد پوره اخلاص او بشپړ اتحاد د راتلونکی انتخاباتو او نورو ربړو او مسائلو په وړاندی متحدد او اغيزمنـد پاليسی غوره کـړی.

حقانی صاحب دليك پـــد پای کی هيله څرګنده کړیچـی علمای کرام به دوی پدی اړ د له خپلو مشوروڅخـد خبر کـړی څو د هغی له مخی ډير ژر پد اقداماتو لاس پوری شـی.دد ـ هيله څرګنده کړد چی کـــد د پاکستان ځنی جيد علماء پـدی رابطـه خپل ورمبنیاجلاس او غونډه د منبع العلوم مدرســد کی جوړه کـړی،دابـه زموږلپارد د وياړ او خوشحالی ځـــای، وي لـدی پرتـد هـر ځای چی دوی لازم ګڼی موږ د دوی ، خـدمت تـه حاضر يـو.

دهيئت تحرير تر نظر لاندي

جلوونکی: ننګيال

مرستيال: هاشمی

مکاتباتی پته:

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳)

يونيورستي ټاون پيښور